## یوولسم پوډکاسټ - د افغانستان اوبه (دویمه برخه)

**سریزه (داود جنبش):**

السلام علیکم، دا له ډاکټر محمد اشرف غني سره بله نوبتي پوډکاسټې خپرونه ده.

به همهٔ تان خوش آمدید میگویم، من داود جنبش هستم.

دې ګڼه کې هم د اوبنیو سرچینو موضوع چې تېره خپرونه کې نیمګړې پاتې شوه اوږدوو او لا به یې سپړو.

ولسمشر محمد اشرف غني ته هم هرکلی وایم.

استاده، ستړي مه شئ!

**دکتور غني:** بسم الله الرحمن الرحیم. ډېره مننه، په خېر اوسئ او زما تاوده سلامونه ټولو وطنوالو ته.

**جنبش:** ډېره مننه، ژوندي اوسئ، علیکم سلام.

اورېدونکو ته وریاده کړو چې تېره خپرونه کې موږ په عمومي ډول د افغانستان په اوبنیو زېرمو باندې لنډ وغږېدو، سیندونو باندې وغږېدو، حوزو باندې، له غرونو سره په رابطې باندې او ژمنه مو وکړه چې په دې خپرونه کې به یې په نړیوالو اړخونو هم غږېږو. دا مهم دي، ځکه زموږ سیندونه یوازې زموږ نه دي، ځینې یې له ګاونډیانو سره هم شریک دي او تر نړیوالو مقرراتو لاندې راځي. خو مخکې له هغې نه، استاده تاسې په تېره خپرونه کې یادونه وکړه چې هلمند ولایت کې چاپېریالي بدلون له امله د تودوخې درجه ۱,۱ سانتې ګراد لوړه شوې ده.

زه خپله هم ۲۰۰۲ کال کې شاهد وم، ما اقلیمي بدلون همالته په سترګو لیدلی، تر نیمروزه خو اوبه نه رسېدې، حتی خپله د هلمند او فراه سیمو شاوخوا کې خلکو د سیند په بستر کې ځاګانې ایستل شوې وې، اوبه یې را ایستلي، اوبه دغومره کمې شوې وې. د چاپېریالي بدلون تاثیر زموږ په سیندونو څه دی؟

**دکتور غني:** چاپېریالي بدلون خطرناک دی او ډېره جدي توجه غواړي. دا څو برخې لري: یو واوره زر ویلي کېږي، واوره به په تېرو پېړیو کې په ډېره تدریجي توګه په اوبو بدله شوه او زموږ فصلو سره، د کر فصلونو سره به یې ډېرې

نزدې اړیکې درلودې، اوس یو واري ویلې کېږي، اوبه په ډېرې توندۍاو بیړې باندې راځي او ددې نتیجه داده چې ځان سره شګه راوړي او ځینو سیندونو کې به مو لیدلې وي چې ۵ تر ۱۰ کیلو متره په ویالو کې شګې راغلي دي. له بلې خوا دا شګه کانکرېټي بندونه [خوري]، ځکه چې داسې توندو اوبو ته [نه دي جوړ شوي].

**جنبش:** یعنې شګې د سوهان کار ورکوي، بندونه سوهانوي؟

**دکتور غني:** مطلق لکه چې سوهان مو په لاس کې وي او دوامدار [یې سوهانوئ]، نو ځکه هغه د انجینیرۍ اساس چې پخوا و چې [ګنې] دا کانکریټ به خوندي وي، [اوس] دا بل رقم [فکر او کار] غواړي. اما هغه شی چې ډاکټر ناکامورا وکړ، یوه طریقه ده چې د هغه په اساس باندې اوبه په ساده توګه بطي کېږي او له توندۍ راګرځي مخکې له دې نه چې خوندي شي؛ او هم لویو بندونو کې ضرورت ددې دی چې په اساسي توګه فکر وشي چې یوه سلسله د وړو بندو او منځنیو بندو [په نظر کې ونیول شي] او [داسې نور تدبیرونه] او دا ټول منسجم فکر غواړي.

بله داده چې د انجینیرۍ له نظره اکثر بندونه په دې باندې ډیزاین کېدل یا نقشه یې تیارېدله چې ۵۰ کاله یا حد اعظمي ۱۰۰ کاله یې سیلابونه او نور په نظر کې نیول.

اوس هالنډ د اوبو په مدیریت کې له ټولو نه پرمختللی هیواد دی، دوی تر زر کاله د انجینیرۍ له نظره شرایط سنجوي او ددې له پاره ضرور ده چې پوه شو شرایط څه دي او په څه رقم دي.

بلې خوا نه د اورښت اندازه په بدلون کې ده. لکه چې پخوا مو هم د هلمند په برخه کې وویل، او دا هلمند، فراه او نیمروز کې په واضح توګه لیدلی شئ او [داسې] نورو ځایونو، او د شمال په حوزه کې چې ټوله د افغانستان په منځ کې ده، مقصد مې د پنج آمو نه دې خوا ته هغه ۵ شمال ولایتونو کې [لیدلی شئ چې] موږ د اقلیم یا د چاپېریال په سخت بدلون اخته یو او بل د کابل حوزې ته که وګورئ، لوی ترین برخه د نفوس د افغانستان په دې کې پرته ده، دا توجه غواړې ځکه چې هم صنعتي اوبه، هم اوبه د برېښنا د تولیدولو لپاره او هم اوبه د کرنې لپاره او هم اوبه د څښاک لپاره [کارول کېږي]، دا ټول باید اوس نظر کې ونیسئ او وېش یې باید په یو ترتیب باندې اوسي چې د ژوند د دوام لپاره [په کار راشي او] په اساسي توګه ټول ابعاد یې د نظر لاندې نیول غواړي.

**جنبش:** یعنې دې ته په پام سره چې د اورښت مقدار کم شوی، واوره لږه اورېږي او یا یوځایي ویلي کیږي او بیا ډېر وخت له پاره نه وي، دې ته په پام سره آیا دا حکم کیدلی شي چې په افغانستان کې په مجموعي ډول د سیندونو د اوبو مقدار مثلاً د ۵۰، ۱۰۰ کلونو په مقایسه کم شوی دی؟

**دکتور غني:** هو؛ هلمند ته وګورئ، معلومدار کجکي [بند] کې حد اقل زموږ ذخیره ۵۰۰ میلیون متره مکعبه تر ۱ میلیارد متر مکعبه په کال کې کمه شوې ده او د کابل د سیند حوزه د لویو ستونزو سره [مخامخ] ده او د شمال سیندونه دا جنجال لري، آمو لا هم بهېږي اما یخچالو ته که وګورئ د پنجشېر سېلاب مو که په یاد وي، زاړه یخچالونه یو واري ویلي شول او ډېره سخته صدمه یې [واړوله] زه لاړم ومې لیده. له بلې خوا نه بیا هم پنجشېر کې چې سخته واوره وشوه، ټول پنجشېر یې لاندې کړی و. په بدخشان کې که وګورئ [هر کله چې] تونډ بارانونه راغلي دي، ځکه چې هلته ځینې تپې مطلق د خاورو دي، یو واري خاوره ویلي کېږي په خټو باندې [بدلیږي] او له بده مرغه وطنوال به مو لیدلي وي چې ژوندي دفن شوي دي.

**جنبش:** علاوه از این تغییر اقلیمی که میزان آب را همان طوریکه شما گفتید پایین آورده و در کل جهان یک تغییر در حال وقوع هست، ما در افغانستان یک بخش بزرگ آب را در زراعت هم از قرون متمادی ضایع میکنیم، مثلاً شیوهٔ آبیاری ما به شکلی است که آب یکباره بر مزرعه مسیر داده می شود به جای اینکه به شکل معاصرش از شیوه قطره یی و غیره استفاده شود. در این زمینه چه کارهایی صورت گرفته بود یا چه کارهایی باید صورت بگیرد که میزان تلفات آب کم شود؟

**دکتور غنی:** به دو بُعد اصلی مسئله اشاره کردید. اول، اگر ما میخواهیم که طریق مصرف آب خود را بفهمیم، یک کتاب است به نام «ارشاد الزراعه» [مربوط به قرن ۱۵] که در هرات تالیف شده بود وهنوز [هم] موجود است، شیوه آبیاری را برای نباتات مختلف، درخت های مختلف، [و امثال این هم] تشریح داده است. موضوع اصلی [اینست] که ما یک فلسفه داریم که «هر چه زیادتر آب بدهید به همان اندازه بهتر»، اما امروز این نظریه ضرورت به تجدید نظر اساسی دارد. قسمیکه شما اشاره کردید، ایجاد سیستم آب های قطره یی و استفادهٔ اساسی از اینکه از یک طرف باید یک نقشه منظم خاک را داشته باشید، خاک تغییر میکند، نقشه [برداری] های خاک که در دوران داود خان شروع شده بود بدبختانه تا یک اندازه به صورت اساسی تجدید نظر نشده و بدون نقشه های خاک مقدار آب را هم تعیین کرده نمی توانید.

از طرف دیگر کدام نبات، کدام درخت چه مقدار آب به کار دارد و در بدل آن قیمت فروش تولیدات آن به چه اندازه است و موجب چه رقم رفاه می شود. این نقاطیست که به صورت اساسی باید مورد توجه قرار بگیرند. از جهت اینکه ما در سالی در حدود یک ونیم تا دو میلیارد دالر را [به علت] عملیات های مخالفین از دست می دادیم. شرایطی که افراد تخنیکی بتوانند تمام این ابعاد را به صورت اصلی مورد مطالعه قرار بدهند و به اساس آن اقدامات

کنند، بدبختانه سرعتش بطی بود و حالا ضرورت واضح است که هم از تکنالوژی معاصر استفاده شود، اما مخصوصاً نقطه کلیدی اش اینست که در سیستم آبیاری ما باید یک تجدید نظر شود.

**جنبش:** چقدر آسان خواهد بود این تجدید نظر و مخصوصاً جایگزینی آن توسط سیستم های جدید از جمله [سیستم] قطره یی؟

**دکتور غنی:** نقطهٔ کلیدی سهم مردم است، مشارکت مردم است. ما از نگاه عرف، تجارب چند هزار ساله داشتیم که مردم مدیریت آب را خودشان میکردند ودر آن شرایط فهم عامه و طرز برداشت مشترک بود.

ما در یک حالت برزخ قرار داریم، از یک طرف بندهای بزرگ، متوسط و کوچک به پول دولتی ساخته شده، از طرف دیگر مدیریت مردمی که در قانون آب واضح است که باید با آن یکجا شود، به صورت اساسی صورت نگرفته است. طور مثال: بند سلما یک ذخیره بزرگ در حدود ٦٥٠ میلیون متر مکعب آب را ایجاد کرد، اما استفاده از این آب حد اقل بوده، از خاطریکه جو ها، کانال های دومی و سومی که باید به صورت اساسی ایجاد می شد [ایجاد نه شد]. قسمت بند را من شخصاً مدیریت کردم تا انجام بدهم و مشکلات سیاسی نباشد، اما در قسمت دوم با مشکلات عظیم و کار شکنی های دوامدار مصادف شدیم. ضرورت آنست که باز هم ما یک دیدگاه وسیع حوزه یی وحوزه های فرعی داشته باشیم تا بهترین شیوه های آن هم بر اساس علم و هم بر اساس مشارکت باشد.

نقطهٔ کلیدی این است که آب، خاک، تکنالوژی همه با انسان در مزرعه جمع می شوند. در قریه، در حوزه و تا مشارکت واضح و یک دیدگاه مشترک وجود نداشته باشد، بالا آب و پایین آب و وسط آب در مخالفت قرار میگیرند.

در اینجاست که یک نظام حقوقی و نظام اداری مطلق ضرور است، تا همه این را باهم انسجام بدهد تا رفاه عام که در آن رفاه فردی از مزرعه تا حوزه و تا حوزه فرعی و حوزه کلی وجود دارد، با هم مرتب شود.

**جنبش:** دغو دریو اصطلاحاتو – بالا آب و پایین آب باندې به لړ وروسته وغږیږو چې اوریدونکي پرې پوه شي، مخصوصاً ځوانان چې دغو اصطلاحاتو سره ښایي بلد نه وي، زما د خپلې سیمې نه د میرآب کلمه په یاد ده چې اوبه به یې تنظیمولې.

په هر صورت؛ موږ زراعت باندې لږ تم شو چې دې کې ډېرې اوبه ضایع کېږي، نورې برخې شته چې هغه هم دغه ډول یا دې ته ورته اوبه ضایع کوی، مثلاً: صنعت کې، که څه هم موږ صنعتي هیواد نه یو، مګر ونډه یې څومره ده د اوبو په ضایع کولو کې؟

**دکتور غني:** صنعتي هېواد نه یو، مګر زموږ ټولې زېربناګانې به کانکرېټ ته ضرورت لري او دا سیمنټ پورې تړلې دي او سیمنټ اوبه غواړي.

**جنبش:** یعنې دا دومره اوبه دي چې سړی باید ورته اندیښمن شي؟

**دکتور غني:** معلومدار؛ زموږ جنجال د صنعت دادی چې همېشه د نورو هېوادو ماشینونه چې له فعالیت نه لویدلي دي او هلته اجازه نه ورکوي، راوړو خپلې خاورې ته، که دلته په اساسي توګه په ټکنالوجۍ باندې کنټرول نه وي، مثال یې لکه موټر غوندې دی.

**جنبش:** ۵۰ کاله زاړه موټر هم . . .

**دکتور غني:** ۵۰ کاله زاړه موټر دي، [زموږ هېواد] د نړۍ د [زړو] موټرو په موزیم باندې بدل شوی دی او ددې منفي تاثیرات [به مو لیدلي وي چې] د کابل هوا د کال [په څو میاشتو] کې څنګه وه، ټول به....

**جنبش:** ژمي کې مخصوصاً تنفس نه کیده.

**دکتور غني:** ژمې کې تنفس به ستونزې درلودې او بې رحمه خلکو به ټایرونه سوځول او دا نه و چې دا بې وزلې خلك وو، هغوی د لویو آپارتمانونو څښتنان وو او دستګاه ګانې یې په لاسي دا رقم جوړې کړې وې چې فلتر ونه لري. نو دغلته ضرور ده چې پوه شئ چې څه رقم هېواد غواړو. د همدې لپاره لازمه ده چې د کرهنې، د صنعت، د ښاریتوب، د ځنګلونو، ددې ټولو ابعادو باندې باید پوه شو چې یو بل سره څنګه تړلي دي. که ځنګلونه خرابوئ، معلومداره مقدار د اورښت باندې دا مستقیم تاثیر لري، اما که ځنګلونه ډېروئ او خوندي کوئ، دا بیا مثبت اغېز لري.

**جنبش:** فکر کنم به یک سوال مهمی که میرسیم و در ذهن هموطن ها و شنونده ها شاید خطور کند این خواهد بود که خوب، ما دریاهای خود را داریم از کوه های ما سرچشمه میگیرند، ولی معمولا میگویند که این دریاها مشترک اند با کشورهای دیگر، در حالیکه منبع آن، سرچشمه آن در داخل افغانستان است. الزام از کجا میاید، چرا باید دیگران را در آن شریک بسازیم؟

**دکتور غنی:** الزام از دو جهت است. یک عرف صدها سال یا هزارها سال که این دریاها مسیری داشته، دریای کابل با دریای کلان اندس وصل می شود، آب آمو به جهیل ارال میریخت، غیره و غیره...

بنابر این، وقتیکه عرف قدیمی قبل از ایجاد سرحدات فعلی افغانستان معاصر به وجود آمده باشد، این یک دلیل است راجع به تقسیمات آب.

قسمت دوم آن، معاهده های دو جانبه است، یا در بعضی کشورها معاهده های سه جانبه و چهار جانبه و اینها که ابعاد مختلف آنرا تعیین میکند. در داخل کشورها، طور مثال در هند و در پاکستان آب صلاحیت ولایتی است. خیبر پښتونخوا طور مثال، نهایت تأکید داشته که [هرچند] آب را از چند بند برای برق در پنجاب حق استفاده دادند، اما نه برای آبیاری. و همچنین در هند، در امریکا آب یک مسئله ولایتی است و بین ولایت های مختلف صدها قضیهٔ مخالفت و حکمیت وجود دارد.

در عین ولایت بین شهرهای مختلف مخصوصاً در لاس انجلس که صحرا بود و [بعداً با استفاده از آب] به یک ساحه بسیار بزرگ زراعتی مبدل شد. از این جهت عرف یک بخش است و قانون بخش دیگر است و بالآخره بخش قوانین بین المللی است، قوانینی که مرجع تطبیق ندارد، اما، اصول حکمیت تعیین کرده میتواند. اگر هلمند را مثال بگیرید که تنها دریایی است که ما روی آن یک معاهده [با ایران داریم]. این تقریباً در حدود ۹۰ سال گرفت تا افغانستان و ایران بالای یک معاهده به نتیجه [برسند] و یکی از دلایل عمده بیکه مناسبات امیر شیر علی خان با انگلیس ها به وخامت رفت از خاطر قضاوت شان در قسمت تعیین سرحد ایران و افغانستان بود که بخش سیستان را تقسیم کردند و خاصتاً خط را روی دریا و روی ساحه گودهای بسیار عظیمی که ما در آن دوران داشتیم و یک ساحه خاص محیط زیست بود، تعیین کرده بودند. بالآخره مرحوم شفیق توانست به اساس تحقیقات گذشته و حکمیت های اولیه بیکه وجود داشت، یک معاهده محکم و به نفع افغانستان امضا کند، که به اساس آن ما اقدامات خود را انجام دادیم و قسمیکه قبلاً خدمت تان یک بخش معاهده را خواندم، افغانستان حق مطلق استفاده آب، جز آبی که مقدارش تعیین شده، دارد و علاوه بر این اگر باری، از خاطر شرایط خاص افغانستان یک مقدار آب [اضافی] به ایران می دهد، معاهده واضح است که این برای آینده دلیل ادعا بالای تقسیم آب به صورت دوامدار شده نمی تواند، اما بالای آب های دیگر، ما این رقم معاهده نداریم.

**جنبش:** [په دې ارتباط مې] غوښتل بیا وروسته یوه پوښتنه وکړم، تاسې د سیستان د وېش موضوع ته اشاره وکړه، انګرېزانو نه یوازې زموږ په ختیځه برخه کې دغسې جنجالونه جوړ کړي په لویدیځ کې یې هم [جوړ کړي دي]. ما ته د سراج الاخبار یوه مقاله د محمود طرزی رایاده شو چې ویل یې، د سیستان هغه مهمه برخه، هغه لویه برخه او

ښه برخه يې فارس ته وسپارله او هغه وروسته پاتې برخه يې د افغانستان برخه وګڼله. په هر صورت؛ که څه هم موږ غوښتل چې په دغو خپرونو کې، پودکاستونو کې زيات په تېر باندې تم نه شو، په دې باندې تم شو چې راتلونکې کې څه کولای شو، څنګه خپل هېواد په پښو ودروو، خو غوښتل مې بيا هم همدې نړيوالو سره د اوبو مسئلې ته په اشاره، که کومه خاطره لرئ له بهرنيو مشرانو سره په غونډو کې چې هغوی داسې غوښتنه کړې وي چې په تاسې ښه نه وي لګېدلې، يا برعکس ښه درباندې لګېدلې وي؟

**دکتور غني:** زما په ياد دي چې لومړی کال و چې زه وزارت ماليه کې وم چې د ايران ولسمشر راغی.

**جنبش:** احمدي نژاد؟

**دکتور غني:** نه، نه.

**جنبش:** هغه نه مخکې و؟

**دکتور غني:** ولسمشر خاتمي و او زموږ يو مسئول چارواکي ، مخکې له دې نه چې موږ مجلس [ولرو] ويل: «څه خبره ده خو لږ څه اوبه دي ور يې کړئ دې ايرانيانو ته».

دا ريښتيا ما ته يوه ترخه ورځ وه، ځکه که يو مسئول شخص د افغانستان دومره د افغانستان له پانګو نه بې خبره وي او پوه نه وي چې د هلمند معاهده څومره ټينګه ده، دا ډېر د خواشينی ځای دی. په دې اواخرو کې هم يوه پخواني وزير د افغانستان ويلي و چې د آمو اوبو کې افغانستان حق نه لري. موږ ۳۰ تر ۴۰ ٪ د آمو اوبه توليدوو، يو توليد کوونکی څنګه حق نه لري او يو شخص چې مسئول و په افغانستان کې څنګه دې خاورې ته د تعلق خبره کوي؟ هره قطره د اوبو زما وينه ده، زما ضمير دی، زما وجود دی، څو زره کاله هڅوکي د نياکانو مې له دې اوبو جوړ شوي دي. دا موضوع اکثر سرسري تېره شوې او زما دريځ ټولو سره دا و چې بين المللي حقوق واضح دي او ځکه ما د قوشتيپې ترتيبات ونيول، سره له دې چې زښت ډېر مراجعات وشول او حتی هر وار ګواښونه موجود وو.

خبره په دې کې ده چې بايد يوې طرحې ته ورسيږئ، لکه چې ما نيمروز کې وويل. ايران بډای هيواد دی معلومدار، تعزيراتو ورباندې منفي اغيزه کړې، مګر ايران له ارجنتينا نه، له برازيل نه او نورو هېوداو نه زراعتي مواد راوړي. افغانستان کولی شي چې نه يوازې موږ ځان ته کندو و اوسو بلکې د ايران کندو اوسو، دا اوبه چې ايران ته رسيږي او په کرهنې باندې لګېږي بې حده قيمتي دي، له هغه نه چې په افغانستان کې ولګېږي - د معاهدې په چوکاټ کې زه وايم- او که منظمه سلسله د بندونو وي، دلته بايد يو بل ته لاس ورکړو نه دا [چې اختلاف او جنجال ولرو] او هم

په تولیداتو سره موږ په دوامداره توګه موافقې ته رسیدلی شو. دلته مشترکه ګټه منځته راتلی شي، عقل او انسجام غواړي، اما [ځرنګه] چې ټول له بده مرغه په مفته اموخته شوي دي... یو سړی چې مفت خوره شي بیا ورته ډېره سخته ده چې د بل حق ومني که ورونه هم وي، تربګنې خو په افغانستان کې بد نوم لري، که یو څوک نه وي لس کاله یا شل کاله او بېرته راشي خپل کلي ته او ووایي چې دا مې د پلار او نیکه حق دی، ګورئ چې څنګه په کرکه ورته ګوري او په وینې باندې بدلېږي. [ځرنګه] چې موږ تداوم نه درلود او داسې حکومتونه مو نه درلودل چې زموږ له حقوقو نه پوه وي او ورنه مدافعه وکړي، په جنجالونو اخته شوي یو او نور فکر کوي چې دا ددوی حق دی چې هر شی چې ورځي ورته، مفت دي؛ بدل غواړو، منطق غواړو او په ګډه اقدامات غواړو.

**جنبش:** هو؛ هماغه یو متل هم دی کنه وایي، «آموخته خور ښه دی که میراث خور!»

**دکتور غني:** هو؛ بالکل.

**جنبش:** همدغه ځای کې لنډ مې غوښتل زموږ اورېدونکو ته به مرسته هم وشي، [له نړیوالو سره د ګډوالي برخه کې] یو څو سیندونه خو زما په یاد دي، که کم وو تاسې به مرسته راسره وکړئ: کونړ، آمو، هلمند، هریرود، کیدای شې بخش آباد برخه کې تاسې...

**دکتور غني:** زه به یې تاسو ته ساده کړم.

**جنبش:** هو.

**دکتور غني:** غیر له شمال ولایتونو د سیندونو نه: (سمنګان، مزار شریف، شبرغان، سرپل، فاریاب) زموږ نورو ټولو سیندونو باندې یا پوهېږو چې بین المللي دي، یا ادعا ده چې بین المللي دي.

**جنبش:** یعنې سرچېنه یې دلته ده، هغوی ته ورځي. زما پوښتنه هم په دې کې وه.

**دکتور غني:** سرچېنه یې دلته ده، [ځینې سیندونه دي چې دننه یې اوبه ډېرې مصرفېږي] لکه کابل سیند چې له سر نه تر آخره پورې ورنه استفاده کیږي اما کونړ نه، نه کیږي. نور سیندونه هم [شته]، هریرود باندې موږ اختلاف د نظر لرو، ځکه زموږ دریځ دا و چې دا فصلي سیند دی، او ځکه چې یوه برخه یې معلومدار هلته بدلیږي په عمده سیند باندې، د ایرانیانو او هم د ترکمنستان [دریځ دا و] چې دا بین المللي سیند دی. حوزه بین المللې ده، که حوزه نظر کې ونیسئ نو بیا خبره په دې باندې نه راځي چې یوازې له افغانستان نه اوبه ځي، حوزه د هریرود زښت ډېر سیندونه وو چې له ایران نه راتلل افغانستان ته بېرته هریرود سره یوځای کېدل، [وروسته] هغوی ددې سیندونو مخه وګرځوله

په داخل د ایران کې او له بده مرغه په ایران کې هم د انجینری له نظره اوبو کې ډیرې ستونزې دي. که حوزه نظر کې نیسئ نو دا بیا بل رقم بحث غواړي او ایرانیانو سره موږ دې نتیجې ته رسیدلي یو چې باید د هریرود د ټولې حوزې مطالعات وشي.

**جنبش:** به همین رابطه میخواستم بپرسم که خوب، شما اشاره کردید که معاونین هریرود یا دریاهایی که از ایران می آمد، آنها جلوش را گرفتند، در حالیکه همسایه ها حال ادعا دارند که هریرود باید بین المللی باشد. غیر از هریرود دریاهای دیگری هم است که معاونینی داشته باشند یا دریاهای مستقل باشند که از همسایه ها طرف ما جریان پیدا کند، یعنی که از آن طرف بیاید و ما از آن استفاده کنیم؟

**دکتور غني:** دریای کنر که مسیرش را معلومدار میفهمید که شروع میشود [از اینجا]، پس به ساحه باجور [در آنطرف خط دیورند] میرود، پس به کنر میاید. بنابراین یک سلسله دوامدار است در اینجا. دریای پنج تا که به آمو بدل می شود، یک قسمت دریاها [معاونین آن] از افغانستان سرچشمه میگیرد، یک قسمت دریاها از تاجکستان تا بالآخره به آمو بدل می شود.

در اینجا نقطهٔ کلیدی در قسمت پنج آمو این است که دوبار - یکبار در دوران اتحاد شوروی و بار دیگر در دوران استقلال جمهوریت های آسیای مرکزی، اینها آب آمو را بین خود تقسیم کردند، بدون در نظرداشت منافع افغانستان و بدون حق افغانستان و چون ما سرآب هستیم یا بالا آب هستیم، قوانین بین المللی ما را حق می دهد که حق خود را تثبیت کنیم و تثبیت این حق تنها به مراجعه صورت نمیگیرد، با اقدامات عملی صورت میگیرد، مثل قوشتیپه واری که همسایه ها وادار به این می شود که به یک مذاکرات دوامدار بیایند تا بالآخره به نتیجه برسیم.

**جنبش:** بلی، من قبلاً گفتم که در مورد این سه اصطلاح یا اصطلاحات مربوط به آب یک کمی صحبت میکنیم، خوب در داخل افغانستان هم مسئله بالا آب و پایین آب و این ها معلوم بود که کی ها حق اولیت دارند و کی ها بعد از آن و حقوق این ها در آب چیست؛ در معاهدات و مراودات بین المللی این اصل چگونه تطبیق می شود، حکم چه هست؟

**دکتور غنی:** حکم اساسی دو چیز است، یک: بالا آب اولویت دارد. دوم: عرف استعمال پایین آب مد نظر گرفته می شود در حکمیت ها.

از این جهت شکل حکمیت مهم است و در هلمند سه بار ترتیبات اساسی برای حکمیت گرفته شد، اما؛ دو کشور [افغانستان و ایران] به نتیجه نرسیدند، تا بالآخره مذاکرات طرفین در سال ۱۹۷۳ به نتیجه رسید.

بالای دریای کابل با خیبر پښتونخوا ما این گونه مذاکرات را انجام نه داده ایم. خیبر پښتونخوا را مشخصاً ذکر میکنم از جهتی که آب در پاکستان یک صلاحیت ولایتی است، اما معلومدار حکومت فدرال هم در آن نقش دارد.

دریای گومل از نگاه تاریخی اهمیت خاص داشته، از جهتی که خاصتاً در اوج تمدن غزنوی ما، سلطان محمود از راه گومل و از راه پکتیکا به هندوستان لشکر کشی ها داشت و این ها.

همچنین دریای شمل و دریای کرمه ابعاد بسیار مختلف دارد و عرف هم در این وجود دارد وشیوهٔ استفاده هم [وجود دارد]. عرض من در این قسمت اینست که یک قسمت این مشکلات اساسی از این سرچشمه گرفته، خاصتاً با ایجاد خط دیورند که اوضاع طبیعی را شکستاندند، حوزه هاییکه از نگاه تاریخی با هم ارتباط بسیار نزدیک داشتند، کوه هایی که با هم ارتباط داشتند، دریاهایی که با هم ارتباط داشتند، [آنها را] از نگاه سیاست نظامی انگلیس [از هم دور کردند] و بعداً موافقه شان در قسمت شمال افغانستان، در قسمت سرحد شمالی ما که سرحد شمالی ما را هیئت های مشترک انگلیس و روس با حضور افغان ها انجام دادند، اما؛ نه به اساس تنها اراده آنها، [به همین منوال].

از این جهت اوضاع طبیعی در طول زمان به اوضاع سیاسی بدل شده و حال ضرورت آنست که هم طبیعت مورد نظر گرفته شود و هم ابعاد سیاسی آن تا ما بتوانیم به یک نتیجه دوامدار و قابل پیشبینی روی تمام دریاهای خود بیایم.

**جنبش:** ولې استاده موږ یوازې ایران سره د اوبو معاهده لرو هغه هم د هلمند په سیند باندې، نورې معاهدې نه شته، موږ نه غوښتل که گاونډیانو ورته زړه نه ښه کاوه؟

**دکتور غني:** لومړۍ خبره داده چې له تاریخي نظره که [شمال د افغانستان ته ] وگورئ، د امان الله خان په وخت کې تر نادر خان او د محمد هاشم خان د صدارت [دوران پورې]، پوهیږئ یو جریب ځمکه په پلخمرې یا قندوز یا بغلان کې یوه افغانۍ وه، یوه روپۍ وه، ځکه دا ټول د ملاریا ځایونه وو، لوی ډنډونه وو، لوی ځنگلات وو. دغه عمده ښارونه، پلخمري، د بغلان مختلف ښارونه، بغلانونه، قندوز ښار تر تالقان پورې مرحوم زابلي لومړې وار نقشه [کړل].

نولسمه پیړۍ کې یو میر د قندوز و مراد بیگ نومېده، فیض آباد یې وران کړ، لس زره کورنۍ یې قندوز ته [راوستلې] او دلته چینجې وو، خاص چینجې وو چې په وجود کې ننوتل او یوه اصطلاح عامه شوې وه چې «اگر مرگ میخواهی قندوز برو».

هلته یو نظر دا و چې اوبه پرېمانه دي، د پریمانۍ له نظره [تړون ته پام ونه شو] او له بلې خوا شوروي لوی قوت و او افغانستان ورسره په مذاکراتو [بوختېدل نه غوښتل] . یو لوی سیند و چې تاریخې مروې ته ته، چې عظیم تمدن د خوارزمشاهې وربانديې دریدلی و، دا سیند یو واري ورک شو، بیا روسانو [له آمو سیند نه] یو لوی کانال وکېنده چې ټول ترکمنستان اوس وربانديې استوار دی. اما ما [داسې] کوم شی نه دي لیدلي چې دوی د افغانستان اجازه په کې اخیستې وي او [ددې ترڅنګ] د استفادې طریقې مخصوصاً پس له دې نه چې پنبه په اوسنې ازبکستان کې اول بخارا کې او پس له هغه نه په ازبکستان کې په ډېره لویه [کچه] مطرح شوه. دا اوبه ټولې یو اړخیزه استفادې لاندې وې او همدغه رقم د کابل د سیند په اوبو باندې هغه مذاکرات چې باید وشي تراوسه نه دي شوي. یو اساس د مذاکراتو ایران سره په هریرود باندې ایښودل شوی او د هلمند معاهده بیا هم تکراروم ډېره ټینګه ده، [عملي] ده او دلته یو لازمي مدیریت په کار دی چې ددې په اهمیت باندې پوه شو او هغه معاهده د تعدیل وړ نه ده او باید تعدیل نه شي.

**جنبش:** میرسیم تقریباً به پایان این برنامه هم، یک دو سوال به صورت کلي میخواهم بپرسم، که ایا این درست است که یک وقت من شنیده بودم می گفتند که جنگ های آینده در جهان بر سر تصاحب منابع آب خواهد بود، اگر این فرضیه درست است و یا این نگرانی درست است، افغانستان از این نگاه چقدر آسیب پذیر است؟

**دکتور غنی:** تمام علایم نشان دهنده آنست که آب به یک بحران منطقوی و بحران جهانی مبدل شده و اگر پیشبینی های فعلی به یقین بدل شود ۱۰ سال آینده سال های بسیار دشوار است، اینکه این عامل جنگ می شود یا عامل صلح و همکاری، تعلق به دیدگاه، عقل و تدبیر دارد.

ما از اینکه میدان جنگ منطقوی بالای آب های ما شویم به ساحه بزرگ همکاری منطقوی مبدل شده میتوانیم، اما باید دیدگاه مشخص و واضح، دانش واضح تخنیکی و ظرفیت مذاکره با تمام کشورهای همسایه و درک عمیق منافع خود را داشته باشیم تا بتوانیم آب را به یک ساحه همکاری مبدل کنیم، عوض اینکه یک موضوع تشنج [شود]. اما بدبختانه با این خطر هم باید به صورت واضح مجادله کنیم که بعضی همسایه های ما همیشه این مسایل را از دیدگاه آنی و تنها منفعت خود دیده اند و دست به پروپاگندهای بسیار مختلف و ناشایسته زده اند و القابی که به ما محول کرده نه منطق دارد، نه استدلال، بلکی تنها بر اساس احساسات است.

نقطهٔ کلیدی چیست؟

افغانستان یک دولت است، افغانستان یک ملت است، هزارها سال وجود داشته و در سال ۲۰۴۷ سه صدمین سالگرهٔ دوامدار دولت بودن خود را می گیرد. باید با عزت طرف ما ببینند نه به حیث وسیله، اما متأسفانه ناآرامی های ما وسیله آنرا ایجاد کرده که دست های ستون های پنجم وجود داشته باشد و وضعیت را، اقدامات ملی را همیشه سوء تعبیر کنند و مانعش شوند. حال باید بفهمیم که باز هم تمام سر موفقیت ما در وحدت ما و در ایجاد یک دیدگاه منظم و منسجم است که آینده خود را، نسل های فعلی را و نسل های آینده را تعیین کنیم.

**جنبش:** تاسې مخکې د ارال جهیل یا سمندرګي یادونه وکړه، زما په یاد دي چې کله ما په شوروی کې درس وایه د هغه وخت نه، د قزاقستان په مربوطاتو کې دغه ځای په وچېدو شو او سخت چاپیریالي بحران یې راوست، خلکو ته د پوستکي او مختلفې ناروغۍ پیدا شوې، یعنې لوی سمندر غونډې یو ځای وچ شو چې آمو سیند په کې تویېده. یو علت یې د نورو ترڅنګ دا و چې د شوروی په وخت کې له اوبنیو منابعو سره ډېر ظالمانه چلند وشو، داسې بوټې یې وکرل لکه پنبه چې ډېرې اوبه غواړي، یا نور بېځایه یې مصرف کړې او تاسې اشاره درلوده چې یو سیند بېخې ورک شو او بیا دوی کانال وایسته. په همدې حساب کله چې ما دې خپرونې ته چمتووالی کاوه د مرحوم اسحاق ننګیال یوه شعرې ټولګه مې ذهن ته راغله نوم یې دی «سیندونه هم مري» خو ارال مې هم ذهن کې راغی، نورې بیلګې یې هم شته، هلمند مې هم لیدلی و چې نژدې وچ شوی و، اوس شکر بیا اوبه پکې پیدا شوې دي. داسې تجربه په افغانستان کې دننه لرو چې یو وخت یو سیند و او اوس نه شته او دا خطر شته چې یو بل سیند هم دغسې له منځه ولاړ شي؟

**دکتور غني:** زموږ هغه ګودونه چې لویې اوبه وې چې دربدلې وې، ګود د زرې او ددې مربوط ګودونه وچه صحرا باندې بدل شوي.

**جنبش:** دا کوم ځای کې وو؟

**دکتور غني:** نیمروز او فراه کې. او کمال خان به ددې وسیله شي چې دغه اوبه ببرته [دغو ګودونو ته] ورشي، ځکه چې هاخوا ته ایرانیانو عمیقې څاه ګانې وایستلې چې دا ټولې زموږ د سیلاب اوبه ددې پرځای چې خوندي شي دلته [هلته روانې وې]، دلته د مرغانو ځای [و]، د کبانو ځای [و]، دا دومره لویه پراخه ساحه وه. یو مشهور انګریز دی چې کتابونه یې لیکلي دي او مشهد کې جنرال کونسل و په نامه د سایکس، ده خپله سفرنامه په اخر د نولسمې او د شلمې پیړۍ په ابتدا کې لیکلې، [د هغې له مخې] دا ساحه عظیمه ساحه وه او بیا یې اوس چې له طیارې نه وګورئ، زموږ پیلوټان او [خاصتاً] د آریانا پیلوټان دې سره ډیر آشنا وو او درښودل به یې چې دا ساحه ټوله وچه شوې ده.

**جنبش:** دا خو یعنې ولاړې اوبه وې، زما منظور دا روان سیندونه...

**دکتور غني:** نه، اوبه تللې. سیندونه خپل مسیرونه هم بدلوي، [دا] چې ووایې چې ټول سیند وچ شوی، آثار یې شته د تاریخي له نظره، آی خانم ته د مثال په توګه وګورئ، لوی تاریخي ځای و، دا د سیند په مسیر باندې و او آمو خپل مسیر [له هغه نه بدل کړ]. کابل سیند بار بار خپل مسیر بدل کړی او مسیرونه دوامداره نه پاتې کیږي. داسې [چې] په مطلق [ډول سیندونه] وچ شوي وي، دې ته باید ښېرته وګورو. اما علایم شته چې ځینې ښارونه چې په وړو سیندو باندې بناء وو خپلې اوبه یې له لاسه ورکړي، کاریزو کې دا په دوامداره توګه ګورئ چې کاریزونه بدلیږي او ورته وچ کاریز وایي او هم له بده مرغه هغه چې لمدې اوبه [اوبلنې ځمکې] وې او کابل یوه لویه پانګه د اوبلنو ځمکو درلوده، دا اوبلنې ځمکې یې د هوایي اډې له څنګ نه نیولې تر ارګ ته نږدې چې د مرغاویانو باغ نومېده او بیا په بګرامیو او شیوه کې کې دا ټول یې وچ کړل.

هرات کې هم نورې ساحې وي چې وچې شوي، نو دا یو بل سره تړلې دي، خاصتاً ویالې وچې شوي دي او منفي تاثیرات یې تثبیت شوي دي.

**جنبش:** مننه فقط چې د ستونزې پراختیا او جدیت اورېدونکو ته ورپه زړه کړم همداسې تحقیقات مې کول په همدې حساب امریکا کې د کلورادو سیند چې د راکې له غرونو نه راوته، څلورو ایالتونو کې تېرېده او د مکسیکو له یوې برخې نه تېرېده او بیا د کالیفورنیا په خلیج کې تویېده، اوس تقریباً وچ شوی دی، یعنې دا امکان ښخي په ټوله دنیا کې شته چې سیندونه وچ شي او له منځه لاړ شي. شکر موږه دغسې خطر سره دغه عاجل نه یو مخامخ، خو که پام ونه شې او اوبه سمې مدیریت نه شي، کیدای شي دغسې یو خطر رامنځته شي.

**دکتور غني:** بالکل؛ یوتا کې هم سالت لیک سیټی چې ورته وایي، اوس سیند په وچېدو دی. کلورادو وچ شوی نه دی اما مقدار یې کم شوی دی، ځکه چې دا لوی بندونه چې په کلورادو باندې آباد شول دا ټول کالیفورنیا خاصتاً لاس انجلس او دا چې صحراګانې وې په دې باندې خړوبیږي نو زښت ډېر مسایل په دې کې پراته دي، بیا هم [خبره] اساسې مدیریت ته [ورګرځي] او خاصتاً د فرعي حوزو اهمیت په دې کې زښت ډیر دی، ځکه چې دا فرعي سیندونه دي چې لوی سیند خړوبوي او که دا اوبه وربانديې وتړل شي بیا نور ابعاد لري او طریقه د استفادې د اوبو ګرځیدلې.

موږ باید دې ته ځان چمتو کړو چې اساسې علمي طریقه چې هرې قطري له اوبو نه ډېرترینه ګټه راشي، نه دا چې ضایع شي، اساس د ټول ژوند مو دی. که خپلې اوبه خوندي کړو همغومره ګاونډیو سره موږ ښې اړیکې جوړولی

شو، ځکه باید مصرف باندې نتیجې ته ورسیږو او دا په مشترکه کېږي. چاپېریال په غربي آسیا او جنوبي آسیا کې ډېر سخت په بدلون کې دی او دا د یو ملك یا د یوه ملت کار نه دی، دلته که یو بل ته لاس ورنه کړو او یو بل سره په ګډه اقدام ونه کړو، نتایج به یې ټولو ته وخیم وي. په راتلونکو ۴۰ یا ۵۰ کلو کې تر ۲۰۰ میلیونه انسانان به [یوازې] د پاکستان او هندوستان ښارونو کې بېځایه شي، نو ابعاد ددې زښت ډېر اساسي دي او د ټولو عاجله توجه غواړي.

**جنبش:** ډېره مننه ولسمشر محمد اشرف غني چې ستاسې تجربې، تحقیقات او څېړنې مو د اوبو په باره کې واورېدې، زه فکر کوم اورېدونکو سره به، له وطنوالو سره به د خپل وطن د منابعو په پېژندنه کې یوه مرسته شوې وي، دې ته به دوام ورکوو په راتلونکو خپرونو کې به په نورو دغه ډول طبیعي زېرمو او شتمنیو د افغانستان تم شو، کور مو ودان.

**دکتور غني:** مننه له تاسې نه؛ احترامات مې خویندو او ورونو ته، ټولو وطنوالو ته.

زنده باد افغانستان، یشه سن افغانستان، تل دې وي افغانستان.